# د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې د اهمیت او پیاوړتیا کړنلارې

**پوهنیارحکیم خان حقیار[۱]، پوهنمل احسان الله حامد[۲]**

[۱]پیداګوژي او روانشناسي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، جلال آباد، افغانستان
[۲] ریاضي څانګه، ښوونې او روزنې پوهنځی، ننګرهار پوهنتون، جلال آباد، افغانستان
ایمیل: hakimhaqyar@gmail.com

**لنډیز**

په لوړو زده کړو کې څېړنه د هېواد لپاره د ملا د تیر حیثیت لري، ځکه چې د هېواد په علمي، اقتصادي، ټولنیز او تاریخي پرمختګونو کې فعاله ونډه لري، خو د افغانستان په لوړو زده کړو کې څېړنه کم رنګه ده. د دې څېړنې موخه د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې د اهمیت او تقویت لارې چارې په ګوته کول دي. په دې څېړنه کې د ننګرهار پوهنتون له ۱۵ استادانو سره مرکې او د افغانستان بېلابېلو پوهنتونو ۱۶۳استادانو آنلاین پوښتنپاڼو ته ځوابونه ویلي دي. د کمي او کیفي میتودونو پایلې ښيي چې څېړنه د شته ستونزو د حل او پرمختګ وسیله ده. همدارنګه د تقویت لارې چارې په پنځه ډوله ډلبندي کوي، چې عبارت دي له ظرفیت لوړونه، کیفیت لوړونه، د امکاناتو زمینه برابرول، هڅونه او له پایلو څخه ګټه اخېستنه چې د دې په پلي کولو به د افغانستان لوړو زده کړو کې څېړنه پیاوړې شي.

**کلیدي اصطلاحات:** لوړو زده کړو کې څېړنه؛ د څېړنې اهمیت؛ ظرفیت لوړونه؛ کیفیت لوړونه؛ امکانات؛ هڅونه

# The Importance and Strengthening Methods of Research in Afghanistan's Higher Education

**Jr. Teaching Asstt. Hakim Khan, Haqyar[1], Sr. Teaching Asstt. Ihsanullah, Hamid[2]**

[1]Department of Psychology, Faculty of Education, Nangarhar University, Jalalabad, Afghanistan.
[2]Department of mathematics Faculty of Education, Nangarhar University, Jalalabad, Afghanistan.
Email: hakimhaqyar@gmail.com

**Abstract**

Research is pivotal in a nation's scientific, economic, social, and historical advancement, serving as the cornerstone of higher education. However, research in Afghanistan's higher education sector remains underdeveloped. This study seeks to underscore the paramount importance of research and explore avenues for its enhancement within Afghanistan's higher education landscape. The research methodology involves interviews with 15 faculty members from Nangarhar University and collecting responses to online questionnaires from 163 educators across various universities. The combined quantitative and qualitative findings accentuate the potential of research as a catalyst for improvement and problem-solving. Moreover, the study categorizes strengthening methods into five distinct types: capacity building, quality enhancement, creating opportunities, fostering motivation, and effectively implementing research outcomes.

**Keywords**: Higher Education Research; Importance of Research; Increasing Capacity; Quality Improvement; Possibilities; Motivation

**سریزه**

څېړنه د شواهدو پر بنسټ د حقایقو او پوهې لټون ته ویل کیږي او نړۍ کې څېړنه د علمي پوهې او نظریاتو د تولید لپاره بنسټي حیثیت لري. څېړنه یوه داسې پروسه ده چې په ټولنه کې شته ستونزو ته حل لارې په ګوته کوي. د څېړنې هدف د پېښو ترمنځ د اړیکو موندل دي. په هره برخه کې بې له څېړنې پرمختګ او مثبت بدلون راوستل ناشونی کار دی(کازوکا او ویما، ۲۰۲۰). د چیکو (۲۰۱۵) په وینا، په ټوله نړۍ کې پوهنتونونه او د لوړو زده کړو مؤسسې د پوهې راټولونې او لیږد د مرکزونو په توګه پیژندل شوي. په حقیقت کې، د پوهنتونو دوډیز رول تدریس، څېړنه او ټولنیز خدمت دی چې په ټولیزه توګه د هېواد پرمختګ اړینو برخو لپاره د روزل شوي انساني ځواک چمتو کول دي (هیل، ۲۰۰۶). دا باید په پام کې ونیول شي چې د لوړو زده کړو ترڅتر لاندې واحدونه په هغه صورت کې ټولنې ته رښا ورکوي چې دوی څېړنې د ټولنیزو او اقتصادي ستونزو د حل په موخه ترسره کړي (کازوکا او ویما،۲۰۲۰). د لوړو زده کړو واحدونو څخه ډېره تمه کېږي چې په څېړنیزو فعالیتونو کې برخه واخلي او د دولت ټولنیز-اقتصادي پرمختګ و هڅوي (ګورانسون او برنهډینیوس ،2010).

په پوهنتونو کې علمي څېړنه د اکاډمیکو فعالیتونو یوه مهمه برخه ده، د هېواد پر اقتصادي ودې او علمي هویت ساتلو کې د څېړنو اغیزې په پام کې نېولو سره د افغانستان لوړو زده کړو وزارت په دې وروستیو کې د څېړنې، تألیف او ترجمې ریاست جوړ او په رسمي ډول یې په سیستم کې شامل کړ (عظیمي او بالاکرزي،۲۰۲۰). د علمي چارو د تقویې لپاره په ډېری پوهنتونو کې د علمي څېړنې مرکز او کمېټې شته، ډېری پوهنتونونه علمي مجلې لري، استادان د خپل علمي ترفیعاتو په موخه او محصلین د علمي سند د ترلاسي په موخه څېړنې کوي او پایلې یې د علمي مقالې، مونوګراف، علمي رسالې او تیزس په بڼه خپروي، د ډېرو پوهنځیو په کریکولم کې د څېړنې مضمون هم شته. پاتې دې نه وي چې په دې وروستیو کې یواځې دکابل پولیتخنیک او ننګرهار پوهنتونو کې آنلاین ژورنالونو خپرونې پیل کړي.

له پورته ټولو هڅو سره بیا هم د افغانستان په لوړو زده کړو کې څېړنه هغه ډول نه ده تقویت شوي څرنګه چې لازمه ده. ځکه چې پوهنتونونه څېړنې غواړي نه د څېړنو پایلې، زیاتره څېړنې یواځې د شخصي موخو تر لاسه کولو پر بنسټ ترسره کیږي. د افغانستان پوهنتونو ژورنالونه آنلاین نه دي، ځکه نو اغېز یې کم او د ادبي غلا چانس پکې ډېر دی. عظیمي او بالاکرزي(۲۰۲۰) په یوه علمي څېړنه کې بیان کړي چې څېړنه او تألیفات د لوړو زده کړو د سیستم یو له پاموړ محصولاتو څخه دي، چې په افغانستان کې تر ټولو مهم ډګر دی. افغانستان د یو مخ پر ودې هېواد په توګه له ۲۰۰۲ میلادي کال راهیسې په سیستم کې ډېر زیات د کیفیت له مخې تغیرات راغلي اما د څېړنې کیفیت ته پاملرنه نه ده شوي، په نړیوال ډګر کې د هېواد ټولیزه څېړنیزه ونډه ٪ ۰،۰۱۹ ده چې تقریباً صفر ده.

زمونږ د تجربو په اساس د افغانستان لوړو زده کړو اړوند په دولتي او خصوصي پوهنتونوکې د استادانو او محصلینو د علمي څېړنو د میتودولوژي او احصائیوي سافټویرونو سره نه بلدتیا، د څېړنې لپاره د ځانګړې بودجې نشت، ساینسي علومو کې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره مجهزو لابراتوارونو کموالی، د لوړو زده کړو په چوکاټ کې ګڼ شمیر ترسره کیدونکي څېړنې یواځې او یواځې د کاغذ پر مخ پاتې کیدل، د هیواد په داخل او حتی د نورو هېوادونو د یو شمیر پوهنتونو سره د علمي څېړنو په برخه کې د لازمو همکاریو نشتوالی او څېړونکو ته د مادي او معنوي امتیازونو نشتوالی ټولې هغه ستونزې دي چې د افغانستان په لوړو زده کړو کې یې د څېړنې تقویت له صفر سره برابر کړی. پورته ستونزو ته په کتو د دې څېړنې موخه په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت او د تقویت لارې چارې یې روښانه کول دي.

**د څېړنې پوښتنې**

1. په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت څه دی؟
2. څرنګه کولای شو د نړیوالو معیارونو سره سم په څېړنه کې د علمي کادرونو ظرفیتونه لوړ کړو؟
3. د لوړو زده کړو په واحدونو کې د باکیفیته علمي څېړنو ترسره کولو لپاره څه کول پکار دي؟
4. د لوړو زده کړو په واحدونو کې د علمي څېړنو ترسره کولو لپاره څېړونکوته څه ډول اسانتیاوي برابرې کړو؟
5. څرنګه کولای شو چې څېړونکي علمي څېړنو ته وهڅوو؟
6. څرنګه کولای شو د علمي څېړنو له پایلو څخه ګټه واخلو؟

**د څېړنې مخینه**

څېړنیز پرمختګ د علمي پرمختګ بنسټ دی او پوهنتونونه د علمي څېړنو او د ټولنې د پرمختګ او هوساینې اصلي مرکزونه دي. د پوهنتونو علمي کادرونه دعلمي څېړنو په وسیله په خپلو ځانګو کې ځانګړي بدلونونه را منځ ته کوي (نورین او آدیب، ۲۰۱۴).

**د څېړنې اهمیت**

د نړۍ پر مخ تللو هېوادونو کې څېړنې ته په کافي اندازه بودجه ځانګړې کیږي او ډیری کارپوهان او مفکرین څېړنو ته ډېراهمیت ورکوي. له همدې امله ډیری څېړنیزو بنسټونو، پوهنتونو، مؤسسو او اشخاصو په بېلابېلو تخصصي برخو لکه تعلیم، ساینس، سوداګرۍ، طبیعي زیرمو او چاپیریال، د بشري سرچینو پراختیا، ساختماني او روغتیا پورې اړوند برخو کې څېړنې ترسره کړې دي ترڅو د زده کړې کیفیت لوړ او د وګړو ژوند ښه والی پیداکړي (چیکو او ملګري، ۲۰۱۵). د ساکران (۲۰۰۰) په آند، څېړنه یوه داسې منظمه پروسه ده، چې په کمي او یا کیفي توګه د یوې مشخصې موضوع لپاره د میتودونو

ډیزاینول، د معلوماتو راټولول، تحلیلول، تفسیرول او د معلوماتو راپور ورکول شامل دي څو ستونزې ته ښکاره ځوابونه وموندل شي. له همدې امله، د تدریس تر څنګ د علمي کادرونو لپاره څېړنه یوه مهمه دنده ده چې په شته پوهه نوي اوتازه علمي معلومات ور زیات کړي. دراهیم او ملګري (۲۰۱۹) استدلال کوي چې څېړنه او پراختیا نه جلا کیدونکي دي ځکه چې څېړنه د اقتصادي پراختیا لپاره ترټولو دوامداره او اغیزمنه وسیله ده او په نړۍ کې د هېوادونو او خلکو ترمنځ د چټکې ودې په وړاندې د سیالۍ وړتیا پیاوړې کوي چې دلوړو زده کړو واحدونه یې د اصلي بنسټګرو په توګه پیژندل کېږي او په ډیری ملي سیستمونو کې د څېړنې په وسیله نوښت را منځ ته کوي (هیل، ۲۰۰۶). د ټولنیزو شبکو تیورۍ ښیي چې په څېړنه کې د نوښت رامینځته کول متضاد نظریاتو ته اړتیا لري چې په بشپړه توګه د همکارۍ په شبکو کې لیدل کېږي (پیرسون، ۲۰۱۸).

**د څېړنې پر وړاندې ننګونې او د تقویت لارې چارې**

داچې ولې څېړنه د افغانستان لوړو زده کړو تر رهبرۍ لاندې واحدونو کې کم رنګه ده لامل یې ځینې ستونزې او ننګونې دي چې له منځه وړلو سره یې څېړنه تقویت پیدا کوي. د څېړنې ترسره کولو پروړاندې ستونزې او ننګونې هغه څه ته ویل کېږي چې د څېړنېزو فعالیتونو په ترسره کولو کې خنډ ګرځي (حضرتي ، ۱۳۹۵). د بیلګې په ډول، د علمي کادر غړو لپاره، د کافي وخت نشتوالی، د څېړنیزو میتودونو په برخه کې دظرفیت ټیټوالی، څېړنه کې د همکارۍ کلتور نشتوالی او د څېړنې واضح اجنډا نشتوالی (حماد او العنی،۲۰۲۱). یوازې د ترفېع (علمي رتبې) لپاره د څېړنې ترسره کول او د څېړنې سره د لیوالتیا نشتوالی (سلامی او ملګري، ۲۰۲۲). د څېړنیزو پروژو لپاره د مادي ملاتړ نشتوالی، د څېړنیزو فعالیتونو ارزولو لپاره د ځانګړو مقررو نشتوالی، د څېړنو پایلې نه کارول (قمشاهي او اخوت، ۱۳۹۵). مون (۲۰۰۸) استدلال کوي چې د څېړونکو ظرفیت لوړول یوازې د میتودولوژیکي مهارتونو لاسته راوړل ندي بلکې د څېړنې پروسې باندې هر اړخیزه پوهه او د هغې پلي کولو وړتیا پیداکول دي. ظرفیت لوړونه یوه پروسه ده چې موخه یې د څېړونکو د څېړنې مهارتونو او د څېړنې میتودولوژۍ ته وده ورکول دي چې دوی د لوړ کیفیت څېړنې ترسره کولو او پایلو ترلاسه کولو توان پر ځان کې پیدا کړي (باریت او ملګري، ۲۰۱۱؛ لیچ، ۲۰۰۹؛ ریس او ملګري، ۲۰۰۷). د لوړ کیفیت څېړنه د مطالعي ټول اړخونه په سیستماتیک ډول په ځان کې شاملوي چې د څېړنو اصول، علمي نظریات او فلسفي بنسټونه پکې کارول کېږي( اکسینس، ۲۰۰۳؛ لوهر، ۲۰۰۴؛ شاولسن او ټونی، ۲۰۰۲). همدارنګه، د څېړنې تقویت لپاره د څېړونکو انګیزه او هڅونه مهمه ګڼل کېږي چې ژانګ (۲۰۱۴) په خپلو څېړنو کې دې پایلې ته ورسید چې د شخصي هڅونې عوامل چې علمي څېړنې پرمخ وړي په دوو کټګوریو ویشل کیدای شي:

خارجي عوامل (لکه د عاید زیاتوالی، د دندې موده، د مسلك وده) او داخلي فکتورونه (لکه رضایت، ویاړ، مرسته کوونکی).

**دڅېړنې میتود**

دغه څېړنه چې د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت او د تقویت لارو چارو تشریح کولو هڅه کوي، د افغانستان له بېلابېلو دولتي پوهنتونو هغه استادانو څخه چې په آنلاین بڼه د لاسرسي وړ وه، معلومات په کمي او کیفي ډول راټول او تحلیل شوي.

کمي معلوماتو راټولولو لپاره د څېړونکو په لاس دوه برخې لرونکی پوښتنلیك په ګوګل فارم کې ډیزاین شو، لومړۍ برخه یې د ګډونوالو ځینې عمومي معلوماتو غوښتنه کوي او دویمه برخه یې د څېړنې موخو پورې اړوند دي چې ټولې، ۲۴ تړلې پوښتنې او ۲ ازادې پوښتنې لري. له دې جملې څخه یې ۸ تړلې پوښتنې او ۱ ازاده پوښتنه د څېړنې اهمیت لپاره او ۱۶ تړلې پوښتنې او ۱ ازاده پوښتنه د څېړنې تقویت لارو چارو په ګوته کولو لپاره په ۴-پوائنټ لیکرټ (بشپړ موافق- بشپړ مخالف) بڼه ترتیب شوي. د پوښتنلیك په پیل کې یادونه شوې چې ټول معلومات به یوازې د څېړنې موخو لپاره په پټ ډول سره کارول کېږي او برخه اخیستونکي چې هرکله وغواړي د مطالعې څخه د وتلو حق لري. دغه پوښتنلیك په آنلاین بڼه د افغانستان دولتي پوهنتونو علمي کادرونو غړو عمومي ګروپ او نورو بېلابېلو د لاس رسي وړ پوهنتونو ګروپونو ته د درې اونیو لپاره ویشل شوی وو.

په پوښتنلیك کې د پوښتنو د منځپانګې اعتبار او د پوښتنو شمېر د پښتو ژبې او ادب څانګې همدارنګه د څېړنې کمېټې غړو نظرونو په کارولو سره تایید شوی. راټول شوي معلومات د تحلیل لپاره SPSS ته انتقال شول او الفا کرونباخ یې ۹۳ محاسبه شوی چې د یو باوري پوښتنلیك استازیتوب کوي. کمي معلومات په احصایوي ډول (شمېر او سلنې) په کارولو سره تجزیه او تحلیل شوي او د جدولونو او ګرافونو په بڼه وړاندې شوي.

کیفي معلومات د نیمه جوړښتیزو مرکو له لارې را ټول شوي. د مرکو لپاره ۱۵ تنه د ننګرهار پوهنتون د دکتورا سکالران او د څېړنې کمیټې غړي په هدفمند ډول د دریو معیارونو پراساس غوره شوي دي: دوی د څېړنې کمیټې مسؤل وه، په څېړنه کې تجربه لرونکي او د نورو په پرتله لوړې وړتیاوې درلودې. ټولې مرکې آنلاین ترسره شوې وې او د څېړنې موخو لپاره ثبت او لیکل شوې. د معلوماتو راټولولو وروسته، څېړونکو د څېړنې موخو ته په کتو د ګډونوالو له ټولو نظرونو څخه لیدنه وکړه. ټول موضوعات په دقیق ډول د څېړنو پوښتنو او موخو مطابق په نښه او کوډ شول. کیفي معلومات د لنډیزونو، محتویاتو تحلیل او مستقیمو نقلونو چې د مطالعې موخو سره سمون لرلو انتخاب شوي. همدارنګه، راټول شوي

معلومات د موضوعي طريقې په پلي کولو سره په مختلفو ګروپونو ويشل شوي او د راپور په ترتيبولو کې کيفي موندنې د کمي موندنو بشپړولو لپاره کارول شوي.

**ګډونوال**

په دې څېړنه کې ۱٦۳ علمي کادر غړو پوښتنپاڼو ته ځوابونه ويلي چې ډيری يې ماستر (۱۰۳) کمترين ليسناس (۲٦) او ۳۴ تنه دکتوران دي. ۷۵ تنه پوهنيار، ۵۸ تنه پوهنمل، ۱۰ تنه پوهندوي، ۱۲ تنه پوهنوال او ۸ تنه پوهاند علمي رتبو لرونکي دي. له يو څخه تر پنځو پوري مقالې ۸۳ تنو په ملي ژونالونو او ۹۸ تنو په نړيوالو ژورنالونو کې خپرې کړې چې په لاندې لمړی جدول کې ښودل شوي. همدارنګه، د ننګرهار پوهنتون ۱۵ تنو د دکتورا سکالرانو او د څېړنې کميټو غړو سره مرکې شوي. د څېړنې ټوله نمونه ۱۷۸ تنه علمي کادر غړي دي.

لومړی جدول: د ګډونوالو عمومي معلومات

| تحصیل | شمیر | سلنه | علمي رتبه | شمیر | سلنه | ملي مقالې | شمیر | سلنه | نړیوالې مقالې | شمیر | سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لېسانس | ۲٦ | ۱٦ | پوهنيار | ۷۵ | ۴٦ | هيڅ | ۵۰ | ۳۰,۷ | هيڅ | ۴۴ | ۲۷ |
| ماستر | ۱۰۳ | ٦۳,۲ | پوهنمل | ۵۸ | ۳۵,٦ | 1-۵ | ۸۳ | ۵۰,۹ | 1-۵ | ۹۸ | ٦۰,۱ |
| دکتور | ۳۴ | ۲۰,۹ | پوهندوی | ۱۰ | ٦,۱ | ٦-۱۰ | ۱۵ | ۹,۲ | ٦-۱۰ | ۱٦ | ۹,۸ |
| | | | پوهنوال | ۱۲ | ۷,۴ | >۱۰ | ۱۵ | ۹,۲ | >۱۰ | ۵ | ۳,۱ |
| **ټول** | ۱٦۳ | ۱۰۰ | پوهاند | ۸ | ۴,۹ | **ټول** | ۱٦۳ | ۱۰۰ | **ټول** | ۱٦۳ | ۱۰۰ |
| | | | **ټول** | ۱٦۳ | ۱۰۰ | | | | | | |

**موندنې او مناقشه**

**د څېړنې اهميت**

څرنګه چې په لمړی جدول کې د څېړنې اهميت په باره کې په ډاګه معلومېږي چې ۹۸ سلنه د علمي کادر غړي په دې باور دي چې څېړنه يوه داسې پروسه ده چې په ټولنه کې شته ستونزو ته د باور وړ حل لارې چارې په ګوته کوي، د زده کړې کيفيت،علمي پوهې او نظرياتو د توليد لپاره بنسټي حيثيت لري، د يو هېواد پايداره اقتصادي پراختيا د ښه والي لپاره اغېزمنه سرچينه ده، په نړېواله کچه د خلکو ترمنځ د چټکې علمي ودې په وړاندې د سيالۍ وړتيا پياوړې کوي. په ملي او نړېواله کچه د پوهنتونو په ډلبندۍ کې رغنده رول لري. د لوړو زده کړو وزارت تر رهبرۍ لاندې واحدونو کې څېړنه هغه وخت د اهميت وړ ګرځي چې د ستونزو د حل په موخه ترسره شي. په زړه پورې موندنه داده چې يوه جمله د ګډونوالو دقت او ريښتيني پوهې معلومولو په موخه سر چپه ځاي پرځاي شوې وه (چې پرته له څېړنې يو هيواد کولای شي چې په هر ډګر کې د پرمختګ او مثبتو بدلونونو شاهد اووسي) او ۸۲ سلنه ګډونوالو خپل مخالفت له دغه جملې سره ښودلی. دغه موندنې د کازوکا او ويما (۲۰۲۰)، چيکو (۲۰۱۵)، (ګورانسون او برنډېنيوس (۲۰۱۰) موندنو سره ورته والی لري.

د دې ځېړنې لاسته راوړنې ښيي چې د افغانستان دولتي پوهنتونو استادان په نظري ډول دځېړنې پر اهمیت پوهېږي. ځکه چې، په دې ځېړنه کې د مرکو او آزادو پوښتنو لنډیز هم ښيي چې ځېړنه دیو هېواد علمي او اقتصادي پرمختګ، خودکفا کېدو، نوښت، په هره برخه کې دشته ستونزو حل، د انساني ژوند سهولیتونو زیاتوالي لپاره غوره ګام او د نړیوالو سره د مثبتې سیالۍ یوازینۍ لار ده.

دویم جدول: د ځېړنې اهمیت د شمېر او سلنې پراساس ښيي

| پوښتنې | بشپړ موافق | | موافق | | مخالف | | بشپړ مخالف | | ټول | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر | سلنه | شمېر |
| ځېړنه یوه داسې پروسه ده چې په ټولنه کې شته ستونزو ته د باور وړ حل لارې په ګوته کوي. | ٦٦,٩ | ١٠٩ | ٣١,٣ | ٥١ | ٠,٦ | ١ | ١,٢ | ٢ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| پرته له ځېړنې یو هیواد کولای شي چې په هر ډګر کې د پرمختګ او مثبتو بدلونونو شاهد اووسي. | ٦,١ | ١٠ | ١١,٧ | ١٩ | ٣٧,٤ | ٦١ | ٤٤,٨ | ٧٣ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| په نړیواله کچه د پوهنتونو په ډلبندۍ کې یو له اصلي او مهمو لاملونه ځخه یې ځېړنه ده. | ٦٩,٣ | ١١٣ | ٢٩,٤ | ٤٨ | ٠ | ٠ | ١,٢ | ٢ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| ځېړنه د زده کړې کیفیت،عملي پوهې او نظریاتو د تولید لپاره بنسټي حیثیت لري. | ٦٣,٨ | ١٠٤ | ٣٥ | ٥٧ | ٠,٦ | ١ | ٠,٦ | ١ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| ځېړنه د یو هیواد پایداره اقتصادي پراختیا د ښه والي لپاره اغېزمنه سرچینه ده. | ٥٢,٨ | ٨٦ | ٤٥,٤ | ٧٤ | ١,٢ | ٢ | ٠,٦ | ١ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| د لوړو زده کړو تر رهبري لاندې واحدونو کې ځېړنه هغه وخت د اهمیت وړ وي چې د ستونزو د حل په موخه ترسره شي. | ٥٠,٩ | ٨٣ | ٤٣,٦ | ٧١ | ٣,٧ | ٦ | ١,٨ | ٣ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| ځېړنه په نړیواله کچه د خلکو ترمنځ د چټکې علمي ودې په وړاندې د سیالۍ وړتیا پیاوړې کوي. | ٥٥,٦ | ٩٠ | ٤٢,٦ | ٦٩ | ٠,٦ | ١ | ١,٢ | ٢ | ١٠٠ | ١٦٣ |
| په لوړو زده کړو کې ځېړنې یوازې د شخصي موخو (علمي رتبې) لپاره ترسره کیږي. | ٢٣,٣ | ٣٨ | ٤١,٧ | ٦٨ | ٢٦,٤ | ٤٣ | ٨,٦ | ١٤ | ١٠٠ | ١٦٣ |

د یو ګڼونوال په وینا ځېړنه «د ناروغیو د عواملو پر وړاندې مبارزه او د هغوی د مخنیوي او له منځه وړلو لپاره د واکسین او درمل جوړول دي چې ټولنه د مختلفو امراضو د سرایت او پرې د اخته کېدو مخه ونیول شي». بل ګډونوال ویلي ځېړنه «د نویو معلوماتو راسپړل دي چې پخوا پټ وو، پخواني معلومات رد او یا تاییدوي او پټ اړخونه یې روښانه کوي».

همدارنگه په دې څېړنه کې ٦٥ سلنه ګډونوال په دې باور دي چې په لوړو زده کړو کې څېړنې یواځې د شخصي موخو (علمي رتبې/علمي سند) ترلاسه کولو لپاره ترسره کیږي. چې دا لاسته راوړنې د (سلامي او ملگري، ۲۰۲۲) موندنو سره ورته والي لري. د ګډونوالو په وینا افغانستان کې ډیری تش په نامه څېړنې خپلو موخو ته د رسیدو لپاره ترسره کیږي چې هغه نه عملي دتطبیقولو وړ دي او نه هم په نظري ډول د پوهې په زیاتوالي کې کومه مرسته کوي. د دې له اصلي لاملونو څخه ممکن د ظرفیت ټیټوالی وي چې دوي د څېړنې له اهمیت څخه په نظري ډول خبر دي، مگر په عملي ډول د علمي څېړنو ترسره کولو کې کمزورتیا شته، یا د څېړنې ترسره کولو لپاره په کافي اندازه د وخت او سهولیتونو نشتوالی ، استادانو ته د څېړنې لپاره ځانگړې بودیجې نه ورکول، شاید هغه لاملونه وي چې استادان د علمي رتبې او محصلین د علمي سند تر لاسه کولو لپاره په یوه او بله طریقه لکه ادبي غلا، له بلې ژبې څخه ژباړه د څېړنو په نوم خپروي. د څېړنیزو فعالیتونو لپاره د بودجې تخصیص او با کیفیته څېړونکو ته مادي او معنوي امتیاز ورکول به د با کیفیته څېړنیزو فعالیتونو د کمښت په حل کې اغیزمن گام وي. د اونۍ په اوږدو کې د استادانو د درسي ساعتونو حجم راکمول او استادان په دې مکلفول چې علمي څېړنې وکړي. د ریښتیني او علمي څېړنو تر سره کولو لپاره اړینه ده چې په څېړنه پانگونې ته زیاته پاملرنه وشي او استادان وهڅول شي.

**د تقویت لارې چارې**

په دې څېړنه کې د څېړنې تقویت لارې چارې په پنځه ډوله ډلبندي او په لاندې ډول روښانه شوي؛

**ظرفیت لوړونه**

څرنگه چې په لمړی گراف کې په ډاګه معلومېږي چې ۹۹,۴ فیصده استادان باوري دي چې علمي کادرونو ته په مختلفو ځانگو کې د ماستری او دکتورا پروګرامونو جوړول او د داخلي اوخارجي پوهنتونو تر منځ د څېړنو په برخه کې د لازمو همکاریو زمینه برابرول د ظرفیت لوړونې لپاره یو بهترین گام دی. همدارنگه، ۹۵,٦ سلنه استادان په دې باور دي چې استادانو او محصلینو ته د څېړنو میتودولوژي او تحلیلي سافټویرونو دوامداره ورکشاپونو زمینه برابرول او ۹۳,۲ سلنه استادان په نصاب کې د څېړنې میتودولوژي او تحلیلي سافټویرونو کریدیټونه زیاتول په ظرفیت لوړونه کې مهم بولي. دغه ذکرشوې موندنې د (باریت او ملگري، ۲۰۱۱؛ لیچ، ۲۰۰۹؛ ریس او ملگري، ۲۰۰۷) موندنو سره سمون لري.




لومړی ګراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې ظرفیت لوړنې سلنه را په ګوته کوي

یو ګډونوال ویلي «ما په څو ورکشاپونو کې ګډون کړی چې یوازې په نظري زده کړه یې تاکید کاوه او د سافټویرونو په پوهېدلو مې هیڅ ندي لیدلي... اصلي علت دا دی چې مونږ د څېړنې متخصصین نلرو». د یادولو وړ ده چې یواځې په نظري او تیوریکي ډول استادانو او محصلینو ته د څېړنې میتودولوژۍ ښوونه او روزنه بسنه نه کوي، بلکې په عملي ډول د احصایوي سافټویرونو کارول مهم دي. بهتره ده چې د څېړنېزو پروګرامونو تدریس او زده کړې تر څنګ عملي میدان کې د څېړنېزو پروژو پلي کولو لپاره هم زمینه برابره شي. د بېلګې په توګه د عنوان اړوند د اندازې وړ څېړنېزې موخې او پوښتنې جوړول، د معلوماتو راټولولو وسایل برابرول او په عملي توګه تحلیل او تجزیه کول. د ظرفیتونو لوړونې لپاره باید د څېړنې هغه متخصصین ورکشاپونه وړاندې کړي، چې د څېړنې په ټولو اصولو او معیارونو بلد وي او د معلوماتو تحلیل او تجزیه کولو کې عملي تجربه ولري. ځکه په عملي ډول د علمي څېړنو مهارتونو پلي کولو لپاره د څېړونکو وړتیا پیداکول مهم دي نه یوازې په نظري توګه د میتودولوژیکي مهارتونو لاسته راوړل.

بل ګډونوال ویلي «پوهنتونونه باید له نړیوالو پوهنتونو او ژورنالونو سره توافقنامې ولري». نړیوالو کانفرانسونو کې ګډون کولای شي د علمي کادرونو ظرفیتونه په کافي اندازه لوړ کړي. ځکه د نورو څېړونکو سره اړیکه د متضادو نظریاتو او څېړنې اړوند نوي تجربو تر لاسه کولو زمینه برابروي. په دې توګه، د څیړنې همکارۍ شبکې ممکن د پوهې جریان اسانه کړي او د څیړنې خلاقیت او نوښت لپاره شرایط رامینځته کړي.

**کیفیت لوړونه**

په دویم ګراف کې په ښکاره ډول معلومېږي چې سل په سلو کې استادان په دې باور لري چې په څېړنه کې د ادبي غلا مخنیوي لپاره جدي اقدام وشي. د لوړو زده کړو تر رهبري لاندې واحدونو کې څېړنه باید د نوښت، خلاقیت، علمي پرمختګونو او د ستونزو حل په موخه تعریف او د نړیوالو معیارونوپه پام کې نیولو سره ترسره شي. د علمي کادرونو تر منځ په ملي او یا نړیواله کچه د ښه همغږۍ، ګډ کار او د پروژو د ترسره کولو لپاره د ګروپونو جوړول د څېړنو کیفیت لوړولو کې مهم بولي. چې دغه موندنې د (بوز او آشبي، ۲۰۰۳؛ لوهر، ۲۰۰۴؛ شاولسن او تونی، ۲۰۰۲؛ داویس او ملګري ، ۲۰۰۴) موندنو سره ورته والی لري.




دویم ګراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې کیفیت لوړنې سلنه را په ګوته کوي

دا چې د افغانستان په ملي ژبو کې تر اوسه داسې څه نلرو چې د ادبي غلا مخه پرې ونیول شي او سرقت معلوم شي نو دا ستونزمنه ده چې د یوې څېړنې اصلیت معلوم شي. نو د دې لپاره باید خپاره شوي اثار په آنلاین بڼه ثبت شي او د ادبي غلا مخنیوي لپاره ځانګړي سافټویرونه رامنځته شي، دې ته ورته په هر پوهنتون کې په څېړنه له پوهو او متخصصو شخصیتونو څخه د څېړنیزو مرکزونو او کمیټو جوړول تر څو د اړوند پوهنتون استادانو او محصلینو سره د لوړ کیفیت څېړنو تر سره کولو کې مرسته وکړي. همدارنګه یو ګډونوال ویلي چې د لوړ کیفیت څېړنو تر سره کولو لپاره «په انګلیسي ژبې حاکمیت مهم فکتور دی» دا چې د ډېرو علومو تیوریانې غربي دي او په غربي هېوادونو کې رامنځته شوي دي او له بلې خوا انګلیسي نړیواله ژبه ده، چې ټولې علمي سرچینې په کې موندلای شو.

**د امکاناتو او اسانتیاوو زمینه برابرول**

له دریم ګراف څخه په ښکاره ډول معلومېږي چې سل په سلو کې استادان په دې باور دي چې په لوړو زده کړو کې به څېړنه هغه وخت ښه تقویت شي چې د علمي څېړنو د ترسره کولو لپاره مجهز لابراتوارونه

او مواد شتون ولري، په استادانو تدریسي مکلفیتونه کم شي، د علمي څېړنو لپاره ځانګړې بودجه شتون ولري او معتبرو آنلاین کتابخانو ته څېړونکي وړیا لاسرسی ولري. دغه لاسته راوړنې د (حماد او العنی، ۲۰۲۱) موندنو سره ورته دي چې د علمي کادرونو لپاره د تدریس تر څنګ باید کافي وخت د څېړنو لپاره هم په نظر کې ونیول شي.




دریم ګراف: د څېړنه تقویت لارو چارو کې د امکاناتو او سهولتونو سلنه را په ګوته کوي

د ګډونوالو په وینا د پوهنتونو استادان د څېړنو لپاره کافي وخت نلري ځکه خپل ټول وخت په تدریس، ازموینو او زده کړیالانو سره د مونوګرافونو په لارښود کې مصرفوي چې ممکن دا د معیاري څېړنو ترسره کولو لپاره یو لوی خنډ وي.

یو ګډونوال ویلي چې «محصلینو او استادانو ته د څېړنې لپاره بودجه، لابراتوار، انټرنیټ، اړونده سافټویرونه برابر شي». یو بل ګډونوال بیا په ملي ژبو د مجهزو کتابتونونو، لابراتوارونو، ښو او پرمختللو ټکنالوژیکي وسایلو تر څنګ «له نړیوالو علمي مؤسسو او پوهنتونو سره علمي اړیکه، په نړیواله کچه په علمي څېړنو کې د بریالیو څېړونکو له تجربو څخه ګټه اخیستل...» هم مهم بولي. په دوامداره توګه په څېړنو پانګونه کول او د څېړنې لوازم برابرول ترڅو داډ ترلاسه شي چې علمي کادر غړي او محصلین د دې وړتیا لري چې خپل نظرونه تعقیب کړي، څېړنه وکړي او خپلې پوهې لېږدولو لپاره د پام وړ نړیوال داډ ترلاسه کړي.

**هڅونه**

په څلورم ګراف کې ځای پر ځای شوي معلومات ښیي چې ۹۲،۶ سلنه استادان څېړنه د عایداتو لپاره یوه ښه منبع بولي. همدارنګه تقریبا ۹۹ سلنه استادان په لوړو زده کړو کې د څېړنې تقویت لپاره د نړیوالو

معیارونو سره سم د مقالو خپرول او وړاندې کولو لپاره يې په ملي کچه دوامداره علمي کنفرانسونه دايرول او څېړونکو ته د سالم رقابت زمينې برابرولو په موخه مادي او معنوي امتياز ورکول مهم بولي. دغه لاسته راوړنې د (ژانگ، ۲۰۱۴) موندنو سره ورته والی لري.




څلورم گراف: د څېړنې تقويت لارو چارو کې څېړنې ته هڅونې سلنه را په گوته کوي

د گډونوالو په وينا، هڅونه د دې لامل کيږي چې څېړونکي په فعاله توگه خپلې څېړنې وکړي. د بېلگې په توگه، د شهرت، امتياز او ستاينې تر لاسه کولو لپاره په ملي او نړيوالو کنفرانسونو کې خپلې مقالې وړاندې کول. همدارنگه د پوهنتونو او استادانو ترمنځ حتی د زده کړيالانو ترمنځ د باکيفيته څېړنو سيالي رامنځ ته کول او هر کال د څېړنو پر بنسټ غوره پوهنتون، بريالی استاد او ممتاز زده کړيال اعلانول او هغوی ته مادي امتياز ورکول ممکن د څېړنې په تقويت کې تر زياتې اندازې مرسته وکړي.

**د څېړنو له پايلو څخه گټه اخيستنه**

په پنځم گراف کې ځای پر ځای شوي معلومات ښيي چې ۹۹ سلنه استادان په دې باور دي چې په لوړو زده کړو کې څېړنه هغه وخت تقويت پيدا کوي چې د ترسره شويو څېړنو پايلو ته پوره پاملرنه وشي او يوازې د کاغذ پر مخ پاتې نه شي. همدا رنگه، ۹۷ سلنه استادان په ملي او نړيوالو ژبو د آنلاين ژورنالونو را منځ ته کول خو له تر سره شوي څېړنو څخه خلک په هر ځای کې گټه واخلي د څېړنې په تقويت کې اړين بولي. دغه موندنې د (قمشاهي او اخوت، ۱۳۹۵) سره ورته والی لري.
د گډونوالو په وينا هر کال په زرهاوو محصلين فارغيږي او د څېړنې په نوم مونوگرافونه ليکي او هيڅ گټه ورڅخه نه اخېستل کيږي. همدارنگه استادان د علمي رتبې لپاره مقالې په هارډ شکل خپروي چې د گټې اخيستنې څرک په کې ډېر کم ليدل کيږي. يو گډونوال ويلي «دعلمي څېړنو څخه دگټې اخيستنې

لپاره باید دمارکیټ، کمپنیو او پوهنتونو ترمینځ قوي اړیکې واوسي تر څو عملي بڼه ولري او که داسې ونشي نو شوی تحقیق به یوازې د کاغذ پرمخ پاتې وي».




پنځم ګراف: د څېړنې تقویت لارو چارو کې د څېړنې له پایلو څخه د ګټې اخیستنې سلنه را په ګوته کوي

**پایلې**

د دې څېړنې موخه د افغانستان په لوړو زده کړو کې د څېړنې اهمیت او تقویت لارې چارې په ګوته کول دي. د معلوماتو را جمع کولو، تحلیل او تجزیه کولو لپاره له کیفي او کمي میتودونو څخه کار اخیستل شوی. د څېړنې اهمیت په اړه پایلې ښیې چې څېړنه د تېرو تجربو په رڼا کې د نوي پوهې او نظریې تولید، دیو هېواد د ستونزو حل، اقتصادي، ټولنیز، فرهنګي، تاریخي، سیاسي، علمي، ساینسي او ټیکنالوژي پرمختګونو یوازېنۍ لاره ده، په هغه صورت کې چې په معیاري او علمي ډول ترسره شي. نو په همدې اساس په پوهنتونو کې نه یوازې څېړنه باید ترسره شي بلکې پایلې یې د هېواد په کچه په پلان او پالیسي جوړولو کې تطبیق شي. همدا رنګه په لوړو زده کړو کې د څېړنې تقویت لارې چارې په پنځه ډوله ډلبندي شوي چې عبارت دي له: ظرفیت لوړونه، د څېړنې په ترسره کولو کې د علمي کادر غړو ظرفیت لوړونې لپاره په دوامداره توګه د ورکشاپونو، تدریس او زده کړې تر څنګ عملي میدان کې د څېړنیزو پروژو پلې کولو او ګډ کار کولو لپاره هم زمینه برابرول مهم دي. کیفیت لوړونه، د ادبي غلا د مخنیوي لپاره جدي اقدام، د لوړو زده کړو تر رهبرۍ لاندې واحدونو کې څېړنه د نوښت، خلاقیت، علمي پرمختګونو او د ستونزو حل په موخه تعریفول او د علمي څېړنو اصولو په پام کې نیول مهم دي. د اسانتیاوو زمینه برابرول، د څېړنو تر سره کولو لپاره د سهولیتونو او امکاناتو برابرول، ځانګړې بودجه او استادانو ته د څېړنې کافي وخت په پام کې نیول ترڅو داډ ترلاسه شي چې علمي کادر غړي

او محصلین د دې وړتیا لري چې خپل نظرونه تعقیب کړي او په مختلفو برخو کې علمي نوښتونه او پرمختگونه رامنځ ته کړي. *هڅونه*، څېړنو ته د څېړونکو هڅونې لپاره د سالم رقابت زمینې برابرولو په موخه مادي او معنوي امتیاز ورکول. د کال غوره څېړونکی اعلانول. د څېړونکو لپاره د پروژو اعلانول چې په دې سره هم اړونده څېړنه ترسره کیږي او په عیني وخت کې دا د څېړونکو لپاره یو ډول مادي ملاتړ دی، او محصلینو ته د کوچنیو څېړنیزو پروژو ورکول چې له یوې خوا زده کړیالانو پوهه په څېړنه زیاتیږي، او له بلې خوا د زده کړیالانو تر منځ څېړنیزه سیالي رامینځ ته کیږي، چې د څېړنې د تقویت لپاره تر ټولو ښه لاره کیدای شي. له پایلو څخه گټه اخېستنه، په هر پوهنتون کې د څېړنو لپاره آنلاین ژورنالونه را منځ ته کول تر څو د څېړنو له پایلو څخه گټه واخیستل شي او یواځې د کاغذ پرمخ پاتې نه شي.

**وړاندیزونه**

1. د لوړو زده کړو واحدونو کې څېړنې باید په هیواد کې د شته ستونزو د حل، علمي او اقتصادی ودې په موخه ترسره شي.
2. د لوړو زده کړو وزارت په څېړنه د ظرفیت لوړولو لپاره جدې اقدام تر سره کړي.
3. د لوړو زده کړو وزارت په څېړنو کې د کیفیت لوړولو لپاره جدې اقدام تر سره کړي.
4. د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې تر سره کولو لپاره د امکاناتو او سهولتونو زمینه برابره کړي.
5. د لوړو زده کړو وزارت د څېړنو ترسره کولو لپاره د څېړونکو هڅونې ته ځانگړې پاملرنه وکړي.
6. د څېړنې څخه لاس ته راغلو پایلو څخه باید گټه واخیستل شي، او د څېړنې وړاندیزونه باید تعقیب شي.

## سرچيني


حضرتی، عباس. (۱۳۹۵). واکاوی موانع و راهکارهای توسعه فرهنگ پژوهش در آموزش و پرورش ایران. کنفرانس بین المللی نوآوری و تحقیق در علوم انسانی مدیریت و معارف اسلامی، قم. مرکز مطالعات و تحقیقات اسلامی سروش حکمت مرتضوی - انجمن علمی ارتباطات و تبلیغ حوزه علمیه.

قمشاهی، مژگان. اخوت، محمدعلی. (۱۳۹۵). شناسایی موانع و مشکلات انجام پژوهش در آموزش و پرورش و ارائه راهکار نخستین همایش ملی تازه های تعلیم و تربیت در نظام آموزشی ایران. دانشگاه آزاد اسلامی واحد اردکان.

Azimi, M. N., & Balakarzai, A. T. (2020). Nation Building through Higher Education System Resurgence in Afghanistan. Handbook of Education Systems in South Asia, 1-22.

Aksnes, D. W., Langfeldt, L., & Wouters, P. (2019). Citations, citation indicators, and research quality: An overview of basic concepts and theories. Sage Open, 9(1), 2158244019829575.

Barrett, A. M., Crossley, M., & Dachi, H. A. (2011). International collaboration and research capacity building: Learning from the EdQual experience. Comparative Education, 47(1), 25-43.

Chikwe, C. K., Ogidi, R. C., & Nwachukwu, K. (2015). Challenges of Research and Human Capital Development in Nigeria. Journal of Education and Practice, 6(28), 44-47.

Davis, D., Davis, M. E., Jadad, A., Perrier, L., Rath, D., Ryan, D., ... & Zwarenstein, M. (2003). The case for knowledge translation: shortening the journey from evidence to effect. Bmj, 327(7405), 33-35.

Draheim, C., Mashburn, C. A., Martin, J. D., & Engle, R. W. (2019). Reaction time in differential and developmental research: A review and commentary on the problems and alternatives. Psychological Bulletin, 145(5), 508.

Göransson, B., & Brundenius, C. (Eds.). (2010). Universities in transition: The changing role and challenges for academic institutions. Springer Science & Business Media.

Hammad, W., & Al-Ani, W. (2021). Building educational research capacity: challenges and opportunities from the perspectives of faculty members at a national university in Oman. SAGE Open, 11(3), 21582440211032668.

Huenneke, L. F., Stearns, D. M., Martinez, J. D., & Laurila, K. (2017). Key strategies for building research capacity of university faculty members. Innovative higher education, 42(5), 421-435.

Kazoka, J. E., & Wema, E. F. (2020). An analysis of the factors influencing research capacity developments in higher education institutions in Tanzania. University of Dar es Salaam Library Journal, 15(1), 45-66.

Hill, J. K. (2006). University research and local economic development (pp. 7-36). Center for Competitiveness and Prosperity Research, L. William Seidman Research Institute, WP Carey School of Business, Arizona State University.

Leitch, R. (2009). Harnessing the slipstream: Building educational research capacity in Northern Ireland. Size matters. Journal of Education for Teaching, 35(4), 355–371.

Lohr, K. N. (2004). Rating the strength of scientific evidence: Relevance for quality improvement programs. International Journal for Quality in Health Care, 16(1), 9–18.

Munn, P. (2008). Building research capacity collaboratively: Can we take ownership of our future? British Educational Research Journal, 34(4), 413–430.

Naoreen, B., & Adeeb, M. A. (2014).Investigating Academic Research Culture in Public Sector Universities of Pakistan. Social & Behavioral Sciences, 116(21), 3010-3015.

Persson, J. (2018). Talking collaboration: Conceptualizing collaborative research for sustainable development in theory and practice.

Rees, G., Baronb, S., Boyaskc, R., & Taylora, C. (2007). Research capacity building, professional learning and the social practices of educational research. British Educational Research Journal, 33(5), 761–779.

Sakran, M. (2010, April 20–April 21). Educational research from a critical perspective [Paper presentation]. 10th Scientific

Saunders, M., Lewis, P., & Thornhill, A. (2009). Research methods for business students. Pearson education.

Sellami, A., Arar, K., & Sawalhi, R. (2022). Higher Education and Scientific Research in the Arabian Gulf States: Opportunities, Aspirations, and Challenges. Taylor & Francis.

Shavelson, R. J., & Towne, L. (Eds.). (2002). Scientific research in education. Washington, DC: National Research Council, National Academy Press.

Zhang, X. (2014). Factors that motivate academic staff to conduct research and influence research productivity in Chinese project 211 universities (Doctoral dissertation, University of Canberra).